# افغان یو دی

لري لري دلته لري، په زړګي د اروپې کې
وړکی دي هېواد ګی دی، د غربي آلمان په خوا کې
په نامه اتریش یادېږي، استریا هم ورته وایي
په فدرال نظام ولاړ دی، دی پایتخت یې ویانا کې

یو سمسور آبادوطن دی، سمه غرونه یې ټک شنه دي
ودانۍ او عمارات یې، درست رنګین او تر ښویښه دي
چې له پاسه ورقه ګوري، نو له خان سره به وایې
ناوې ناسته شنه سالو کې، په نکریزو لاس تک سره دي

یوه لویست خاوره بابېزه، اوخاره تري پاتې نه ده
هر څپک څپک ودان دی، بېکاره تري پاتې نه ده
که کمر دی که یې پرښه، د عمران یوه نمونه ده
ګوټ په ګوټ یې آبادي ده، کناره تري پاتې نه ده

دلته هلته به پارکو کې، رسرشته مرغان وینې
د بامو په دودکښونو، ته د زاڼو آشیان وینې
سوکالي دي خوشحالي دي، ترقي پر مختګونه
خو پردي دي ټول پردي دي، که څه پټ یا عیان وینې

خپله خاوره مې یادېږي، زړه مې ډېر پسې خوږېږي
هره لوټه یې کیمیا ده، اوس پې هر افغان پوهېږي
د وطن یوه کوډله، په ماګرانه له هر څه ده
چې رایاد مې کلی خپل سي، زړه مې پسې مېښ مېښ کېږي

د دنیا واړه ښارونه، ساري کله د کابل دي
ورته زما په سترګو ګوره، په کار نه کاته د بل دي
کاڼي بوټي د وطن مې، قیمتي دي ارزښتمن دي
د بغلان که د تخار دي، د هرات که د زابل دي

چا ویلي و مجنون ته: د لیلا څېره ده توره
مینتوب د تا په څه دی، بې پروا له هر پېغوره؟
ده ویل: بس که دا خبره، بیا ونه کې که دانا یې
ته دغې توري لیلا ته، بیا زما په سترګو ګوره

نو پروان دی که غزني دی، کندهار که پکتیا
او فراه ده که فاریاب دی، ننګرهار که پکتیکا
کاپیسا هلمند لغمان دي، که لوګر که کونړونه
د جنت یوه ټوټه ده، سترګې خلاصې که بینا

د نیمروز اود روزګان مې، نه جوړه سته نه ثاني
څوک به وښیي وماته، لکه دی بلخ بامي
د کندز د سمنګانو، د جوزجان لیدل په کار دي
اورېدل لیدل یو نه دي، دا یې وېلي رښتیاني

دتاریخ پاڼې رنګینې، په شبرانو د بامیانو
اتلوالې کارنامې به، څه ستایمه د غوریانو
فخریه د کرور ګوره عظمت یې درپه زړه که
د دې ملك د هر کنج شاته، داستان پټ د شتو زمریانو

برجوري کلاکانې، د وردګو اومیدان
تداعي کاندي له واره، د زاړه بخدي دوران
پرتمین غرونه رغونه، دباد غیس بدخشان غور
د سکوت په ژبه وایي، مخاطب یې هر افغان:

له شبرغان بندر زاواخله، څه سهیل تر سپین بولدکه
له اسلام کلا رادې خوا، بیا تونبکته تراټکه
دي زانګو د آریانا کې، یو افغان ولس آباد دی
نور نوموته ثانوي دي، که باور دې سي وورکه

(۱) په یوه جای کې مي دا شعر لوست، چا اعتراض وکه چې زمونږ طبیعي جنوبي سرحد خو د هند سمندر دی، نو سپین بولدك ولې؟ ما وېل شعري ضرورت و.